Pashto

د 2020 مارچ 30

د ایلک ګرو یونیفایډ ګرانو زده کونکو، والدین او کورنیو:

لدې چې موږ له لیرې او آنلاین د ښووني چوپړتیا لپاره چمتووالی نیسو، زده کونکي به د EGUSD له لیرې زده کړې درېځ ته د آنلاین لاسرسي لپاره کمپیوټر ډوله وسیلې او انټرنیټ ته اړتیا ولري. *هغه وسایل چې تاسې یې اوسمهال په کور کې لرئ چې د انټرنیټ سره وصل شي باید د زده کونکي د کار لپاره کافي وي. د مثال په توګه، ستاسي وسیلې د وینډوز کمپیوټر، مک، کروم بوک،* لینکس کمپیوټر یا آی پاډ کیدی شي. د 2020 اپریل 1 نه په پیل سره تر د 2020 اپریل 9 پورې د EGUSD کارمندان هغه زده کونکو ته کروم بوکونه ورکوي چې د لیرې زده کړې لپاره وسیلې ته اړتیا لري. **موږ د کورنیو نه غوښتنه کوو چې یوازې په هغه صورت کې د EGUSD کروم بوکونه واخلئ که چیرې ورته واقعیآ اړتیا لرئ.** هغه کروم بوکونه چې تاسې یې اخلئ د کار کولو لپاره انټرنیټ ته اړتیا لري.

---

**د کروم بوک د ورکولو توزیع پلان**

**د کروم بوک اخیستلو لپاره تاسې باید څه شی راوړئ:**

- د وسیلې ترلاسه کولو لپاره زده کونکی باید په موټر کې موجود وي – حداکثر 1 د هر زده کونکي لپاره
- د هر زده کونکي لپاره د زده کونکي د پیژند کارت
  - که تاسې د زده کونکي پیژند کارت نلرئ، نو مهرباني وکړئ ډاډ لاسته راوړئ چې د زده کونکي د پیژند شمیره او د ښوونکي (ښوونکو) نوم وپیژنئ

**د توزیع کولو نیټې**

- د 2020 اپریل 1 – د 2020 اپریل 9

**د ورکړې پروسه**

*د کاونټي او ایالت لارښوونو په پام کې نیولو لپاره به موږ ستاسې د ماشوم نوم د لومړي حرف پربنسټ د ورکړې ډرایو-ترو سیستم وکاروو.* د کروم بوکونو د ورکولو پروسه به دوه مرحلو کې ترسره شي: یوه د 7-12 ټولګیو لپاره او یوه د 1-6 ټولګیو لپاره. د کروم بوک د ورکړې خدمت به هره جامع لیسه کې وي (لاندې برخه وګورئ). که تاسې غواړئ په صحیح وخت کې یو کروم بوک واخلئ نو مهرباني وکړئ د خپلې سیمې لیسې ته ورشئ.

**موقعیتونه (سیمه ییزې لیسې)**

- کاسیونز لیسه، ایلک ګرو لیسه، فلورین لیسه، فرانکلین لیسه، لاګونه کریک لیسه، مانټرې ټریل لیسه، پلیزینټ ګرو لیسه، شیلډن لیسه او ولی لیسه.

**د بدیل تعلیم زده کونکي کولی شي د ثانوي مهالویش مطابق دې لاندې موقعیتونو ته ورشي:**

- *ویلیام ډیلر لیسه: په فلورین لیسه کې ورکول کیږي*
- *کالوین لیسه: په مانټیرې ټریل لیسه کې ورکول کیږي*
- **لاس فلورس او ریو کازاډیرو لیسه: په ولی لیسه کې ورکول کیږي**

Pashto

**د کروم بوک اخیستلو لپاره وختونه او نیټې:**

**د ثانوي برخې زده کونکو (7-12 ټولګي) مهالویش**

| | ټولګي | د نوم د پیل د حرف A – L | د نوم د پیل حرف M-Z |
|---|---|---|---|
| اپریل 1 | 12 او 11 | د سهار 9:00 – ماسپښین 1:00 | ماسپښین 1:30 – ماښام 6:00 |
| اپریل 2 | 10 او 9 | د سهار 9:00 – ماسپښین 1:00 | ماسپښین 1:30 – ماښام 6:00 |
| اپریل 3 | 8 او 7 | د سهار 9:00 – ماسپښین 1:00 | ماسپښین 1:30 – ماښام 6:00 |

***دا یوازې د ثانوي برخې زده کونکو لپاره دي.*** *که تاسي په ثانوي برخه کې څو زده کونکي لرئ نو مهرباني وکړئ د خپل ترټولو لوی ماشوم لپاره ټاکلي وخت کې راشئ. که تاسي په ثانوي او ابتدایی دواړو برخو کې ماشوم لرئ، نو تاسي اړ یي چې په پورته ورکړل شوي وخت کې د ثانوي برخې ماشوم لپاره راشئ او بیا د ابتدایی برخې لپاره ټاکلي وخت کې بل وار راشئ.*

**د ابتدایی برخې زده کونکو (1-6 ټولګي) مهالویش**

| | ټولګي | **د نوم د پیل د حرف A – L** | **د نوم د پیل حرف M-Z** |
|---|---|---|---|
| اپریل 7 | 6 او 5 | د سهار 9:00 – ماسپښین 1:00 | ماسپښین 1:30 – ماښام 6:00 |
| اپریل 8 | 4 او 3 | د سهار 9:00 – ماسپښین 1:00 | ماسپښین 1:30 – ماښام 6:00 |
| اپریل 9 | 2 او 1 | د سهار 9:00 – ماسپښین 1:00 | ماسپښین 1:30 – ماښام 6:00 |

*دا یوازې د ابتدایی برخې زده کونکو لپاره دي. که تاسي په ابتدایی برخه کې څو زده کونکي لرئ نو مهرباني وکړئ د خپل ترټولو لوی ماشوم لپاره ټاکلي وخت کې راشئ.*

*د جیسي بیکر او ایلک ګرو چارټر زده کونکي به وسایلو ته د لاسرسي لپاره د خپل ښوونځي پروسه تعقیبوي.*

د انټرنیټ سره نښلیدل

که تاسي په کور کې انټرنیټ نلرئ، نو EGUSD د اړمن کورنیو لپاره د هاټسپاټ ترلاسه کولو لپاره د ټي- موبایل (T-Mobile) سره کار کوي. دا هاټسپاټ به یوازې د EGUSD کروم بوکونو کې کار کوي. د دې وبا پرمهال زموږ د اړتیا وړ مقدار هاټسپاټونو ترلاسه کول خورا مشکل دي. پدې تړاو به نور معلومات ژر لاسته راشي.

دلته د انټرنیټ عرضه کونکو یو نوملړ دی چې د په شرایطو برابر کورنیو لپاره ارزانه او تخفیف لرونکي انټرنیټ خدمات وړاندې کوي:

- د کامسیټ لخوا انټرنیټ ایزانشیل: https://www.internetessentials.com/
- د لخوا AT&T لاسرسی: https://www.att.com/shop/internet/access/#!/
- کانسولیډیټیډ کمیونیکیشنز: https://www.consolidated.com/about-us/locations/california
- ټي – موبایل: https://www.t-mobile.com/
- ویریزون: https://www.verizonwireless.com/

په ساحه کې نور وړاندي کونکي:

- فرنټیر کمیونیکیشنز: https://frontier.com/

---

پدې ننګونکي وختونو کې ستاسي د ملاتړ او زغم نه مننه. په ایلک ګرو یونیفاید کې موږ غواړو هر زده کونکی په هر ګوګل ټولګي کې اوسي، د هر مضمون زده کړه هره ورځ وکړي. د لوړ کیفیت ښووني، د زده کونکي د پرمختګ نظارت او ارزوني، د زده کونکو او کارمندانو روغتیا او د کورنی او ټولنې بوختیا او ښکیلتیا لپاره زموږ هدف ادامه لري لکه څنګه چې موږ ژمنه کړې چې د لاسته راوړني فاصله له مینځه ویسو. موږ به په ګډه پدې کې بریالي شو.

د EGUSD مشرتابه